## ټاکل شوی استوګنځی

هغه استوګنځی چی سیلانیان پکی استوګنه کوی، او دغه لاندی سیمی پکی شامل دی:

۱- میلمستونونه (هوټلونه).

۲- بانډی (ویلا ګانی).

۳- مسافرتی نماینده ګی.

۴- ګرځندوی (توریستی) سیمی.

دری: [اقامتگاه تعیین شده]

## ټاکلی عین

هغه مال دی چی په خپل ذات بیله الحاق د کوم ځیز معلوم او د اشاری وړ وي. دری: [عین معین]

## ټاکلي موعد

له هغه موعد څخه عبارت دی چې پیل او پای ولري.

دری: [موعد معین]

## ټکټ

هغه قیمت لرونکی پاڼه ده چې د صادرېدو په صورت کې، لاس ته راوړونکی د معینو پیسو په ورکړې مکلفوي. دری: [تکت]

## ټوټه (قطعه)

د هغې ځمکې محدوده ده چې شا او خوایې د عامه یا اشخاصو او د حقوقي شخصیتونو ملکیت احاطه شوی وي. دری:[قطعه]

## ټولیز (جمعی) عقد

ټولیز یا جمعي عقد هغه عقد دی چې په هغه کې د عقد دواړه او یا یوه خوا له یوې ډلې اشخاصو څخه جوړه وي. دری:[عقد جمعی]

## ټولنیز تضمین

هغه ډول خدمات او تأمینات دي چې دولتونه یې د مالیاتو د ترلاسه کولو له لیارې خپلو وګړو ته ورکوي.

دری: [تضمین اجتماعی]